

# د اوسني مخکښ شعرو ادب ټولپېژندلی استازی ښاغلی او منلی عبدالغفور لېوال

## مرکه وال : انجنیرعبدالقادرمسعود

## (لومړی برخه)

دا پلا درته د پښتني- افغاني فرهنگ له مخکښو څېروسره د مرکو په لړکې یو داسې نوښتگر لیکوال او ویناوال در پېژنو، چې په ټوله رښتینولۍ یې خپلې پنځونې د افغان اولس د ویاړونو او دردونو ځلونې او انځورنې ته ځانگړې کړې دي. زموږ دغه پیاوړی لیکوال او نوښتگر شاعر گران او منلی عبدالغفور لېوال دی. ده په خپل ځوان منگ (۳۸کلنۍ) کې گڼ څېړنیز اثار او ادبي پنځونې چاپ ته سپارلي او نور ډېر څه یې د چاپي او برېښنايي رسنیو له لارې خپاره کړي دي.

موږ د دغه هڅاند او پیاوړي پوهیال او فرهنگیال د اند و ژوند د ښه ترا پېژندنې په موخه د یو لنډ ژوند لیک په ملتیا دځو نومورو علمي او ادبي څېړو لیدتوگې تر لاسه کړې دی.

هیله ده، ورسره نورې څرګندتیاوې به یې هر ګوره، له شعري بېلګوسره د مرکې په ترڅ ترڅ کې درنو مینه والو ته وړاندې شي. دا تاسي او پیاوړی ویناوال لېوال صاحب.

ښاغلی عبدالغفور لیوال د علي محمد خان زوی دی. دی په ختهٔ صاحب زاده حسین خیل دی چې پر (۱۹۷۴) زیږدیز کال د کابل ولایت د (موسهي) ولسوالۍ په یوه درنه کورنۍ کې زیږیدلی دی.

نوموړي خپلې لومړنی زده کړې د کابل ښار په اعتبار خان لیسه کې او خپلې لوړې زده کړې یې پر (۱۳۷۲ل) کال د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پښتو څانګه کې پیل او یو کال وروسته د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې تر سره کړې دي. پر (۱۳۸۳ل) کال د یو سکالر شپ ( بورس ) له مخې امریکا ته ولاړ او په ژورنالیزم او سیاسي علومو کې یې خپل څانګپوهیز لاسوند له (مریلنډ پوهنتون) څخه ترلاسه کړ.

## رسمي، علمي او ټولنیزې چارې او دندې:

- پر (۱۳۷۴) لمریز کال د (هنداره) خپرونې خبریال او د کتنپلاوي غړی.

- پر (۱۳۷۴-۱۳۷۶ ل) کال د کابل پوهنتون د فرهنګي شورا مرستیال.

- پر (۱۳۷۷-۱۳۸۰ ل) کال دافغانستان د مرستو د بشري حقوقو د څانګې غړی.

- پر ( ۱۳۸۰ ل) کال په کابل کې د (جګړې او سولې د راپور جوړونې د انستیتوت) لومړنی کتونکی(اډیټور) او مسوول.

- پر (۱۳۸۱ ل) کال په کابل کې د آزادۍ راډیو د پښتو څانګې کتونکی او خبریال.

- پر (۱۳۸۱-۱۳۸۲ ل) کال د افغانستان د اساسي قانون د کمیسیون د مطبوعاتي څانګې مشر او د دارلانشا ویاند.

- پر (۱۳۸۴ل) کال د افغانستان د وزیرانو شورا فرهنګي سلاکار او د فرهنګي چارو د اداري مشر.

په هېواد کې دبېړنۍ لویې جرګې لپاره دهېواد دلیکوالو، شاعرانو او ژورنالیستانو غوره شوی استازی او د اساسي قانون د لویې جرګې د رسنیزو چارو دسمون پازوال.

له (۱۳۸۵) لمریز کال راهیسې د افغانستان د سیمه ییزو څیړنو (مطالعاتو) مرکز لومړنی مشر دی چې دعلومو اکاډمۍ ترڅنګ دیوه علمي ـ څیړنیز مرکز په توګه

پرانیستل شوی دی. همدارنګه دافغان ادبي بهير، رشاد کره کتنې او د (( علم او ادب د خپراوي ټولنې )) همېشنی غړی هم دی.

## چاپ شوي څېړنيز اوپنځيز آثاريې په لاندې ډول دي:

- د شعرونو لومړنی ټولګه (( مخه ښه او دوه منظومې )) يې پر (۱۳۷۶ل) کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

- دويمه شعري ټولګه ( ژړا ، اور ، مينه ) يې پر (۱۳۷۷ل) کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

- د( هوسۍ تاريخي، حماسي منظومه) يې پر (۱۳۷۸ل) کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

- د (ارشاك او اوشاس تاريخي، حماسي منظومه) يې پر (۱۳۸۰ل) کال په پېښورکې چاپ شوې ده.

- د (وريښمو تول) ديښتو شعر اوسمهالي بهير کره کتنه يې پر(۱۳۸۱ل) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

- د (ماشومانو لپاره کيسې او بوختياوې) يې د ماشومانو د ادبياتو په اړه پر( ۱۳۸۱ل) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

- د ( نيلو فرو کيسې ) راټولونه (دافغان ښځو په اړه دبيلابيلو ليکوالو کيسې) يې پر ( ۱۳۸۱ ل ) کال په پېښورکې چاپ شوې ده.

- د ( کله چې ته خپه شې ) شعري ټولګه يې پر (۱۳۸۲ل) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

- د (نه ته مې هيره نه وې ) شعري ټولګه يې پر (۱۳۸۴ل ) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

- د ( ټرای ښځې، ژباړه) اثر يې (له اروابناد اسد اسمايي سره ګډ) پر (۱۳۸۷ل ) کال په کابل کې چاپ شوې دی.

- د ( ښځې لام او ايلينو، تاريخي، حماسي منظومه) يې پر (۱۳۸۸ل ) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

ـ د (ادبي یادښتونه، د څېړنیزو مقالو ټولګه) یې پر (۱۳۸۹ل ) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

ـ د (ته زما ټوله شاعري يې) شعري ټولګه یې د لومړي ځل لپاره پر (۱۳۸۹ل ) په کابل کې او د دویم ځل لپاره پر (۱۳۹۰ل) کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

ـ د (اروايي ښامار) د پوهاند سید بهاالدین مجروح پښتوادبي آثارو رواني څېړنه یې پر(۱۳۸۹ل) کال په پکتیا کې چاپ شوې ده.

ـ د (دربیمه لاره، دسیاسي - ټولنیزو مقالوټولګه) یې پر(۱۳۸۹ ل ) کال په کابل کې چاپ شوې ده.

ـ د (شعري سېمبولونه ، دادبي تیوري په اړه علمي رساله) یې پر (۱۳۹۰ل)کال په کابل کې چاپ شوې ده.

ـ د (راه سوم، سیاسي ټولنیزې مقالې ، دغوث جانباز دري ژباړه )یې پر (۱۳۹۱ل)کال

په کابل کې چاپ شوې ده.

ـ د (افغانيزم ، سیاسي ټولنیزې مقالې) یې پر (۱۳۹۱ ل)کال په کابل کې چاپ شوې ده.

او له (سل) څخه ډېرې علمي سیاسي، ټولنیزاومسلکي مقالې یې د هیواد په مهالنیو کې چاپ شوې دي.ځینې ناچاپ کتابونه هم لري چې ډېر ژر به چاپ شي.

ـ اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد چې د پښتو ادب یونومیالي او پوخ لیکوال دی، د لیوال صاحب د یواثر په اړه چې (د هوسۍ منظومه) نومېږي شپږ مخیزه سریزه کښلې ده. ده په خپله سریزه کې عبدالغفور لیوال یو رمزنګار شاعر بللی او زیاته کړې یې ده، چې د هوسۍ ډرامه په پښتو ادب کې د خپل اسلوب له مخې، د رمزنګارۍ یوه ښه بیلګه ده. استاد رشاد صاحب وايي:

( دلته موږ وينو چې زموږ ځوان رمزنګار په څومره مهارت د وطن پلورونکو او پردي پالو له مخه څخه د چل او دروهي نقاب هیسته کړی دی. څوک چې د هوسۍ ډرامه ولولي یا یې واوري زه باور لرم دا به ومني چې په دې ډرامه کې د پېښو ترکیب او تسلسل (plot) څومره ابتکار لري.

مافوق الطبعیت کردارونه پکښې نسته، تشبیهات او استعاري یې په زړه پورې دي تخیل یې عالي دی، د بیان ژبه یې اغیزناکه، سلیسه او محاوري ته نژدې ده ـ مکالمې یې له

حال او محل سره برابرې دي، ابتذال نه لري ځینې مکالمې یې د دښمنانو په مقابل کې خسمونه او نفرتونه پاروي، ځینې مکالمې یې د ویاړونو د بیا ژوندانه هڅې او د غرور غریزې له خوبه پاڅوي.

د خوشالۍ خبره ده چې زموږ ځوان شاعر توانیدلی دی د ډرامې د لوستونکو یا اوریدونکو په زړونو او ذهنونو کې د وطن سرشاره مینه او د ویښتابه ښاغلي هڅې د افتخاراتو د راستنولو له تودې جذبې سره وخوځوي...)

ښاغلي لیوال په خپلو شعرونو کې د افغاني ټولني ربښتیني څیره له ټولو ورپېښو دردونو او کړاوونو سره په ډیره میرانه او زړورتیا په شاعرانه احساس او هنرمندانه ژبه خپلو هیوادوالو، لوستونکو اواوریدونکو ته په ډاګه کړې ده. ده ته خدای پاک یو لوی ادبي او شعري استعداد او ورتیا ور په برخه کړې ده.ده د خپل لوړ فکر او ریاضت په هڅو خپل شعري موخه او پیغام له جولیز او مانیز پلوه پسوللي او رنګین کړي چې ته به وایې سړی د یوه هنري فلم ننداره کوي. دې بیلګو ته یې ځیر شئ :

د یو خړ ماښام فضا ده په دره کې

لومړني ستوري سترګک وهي آسمان کې

د درې له دواړه لوریو شنو ځنګلونه

دچنچنو غږ لا اوس هم پورته کیږي

چېرې بوم غږ رابهر کړي له ځنګله نه

داسې ښکاري شپه په بیړه را روانه

یو کاروان راځي په لاره له چتراله

دوه سپاره یې مخامخ شول په دره کې

یو سپین آس پرې اسماني ټیکرې رپیږي

په سمند باندې یو دنګ زلمی ښکاریږي

په چوپتیاکې سپاره مل دلوی کاروان شول

په ځنګله کې چې خاموش جوړه مارغان شول

په دره باندې رڼا دسپوږمۍ راغله

سیند دستورو شنه هینداره شوه څلیږي

یوې ښکلې سر د پلاړ پر ټټر ایښي

په رکاب کې یې دځوان توره ځلیږي

او یا وایي:

## روح لـکه هینداره

زر ځلي کافر شومه بیا دې مسلمان کړمه

زه له ختو جوړ ادم مینې دې انسان کړمه

روح مې آیینه غوندې ته یې د ښکلا تصویر

څومره رانږدې شولې څومره دې جانان کړمه

تا ته چې درګورمه څنګه به مومن شمه

ستا په عشق کې ډوب یمه څنګه دې ایمان کړمه

څاڅکی د شبنم یمه پروت په یوه شنه پاڼه

یو ځل که راوګورې څاڅکی به باران کړمه

هره ساه مې زړه کې یې هره ساه مې سترګو کې

چېرته دې پیدا کړمه چېرته دې پنهان کړمه

ـ پوهاند دوکتور مجاوراحمدزیار، چې زموږ دهیواد نومیالی فرهنګیال څواړخیز منلی شخصیت ژبپوهاند او ادبپوهاند، لیکوال، رسنوال او تکړه وینا وال دی د ښاغلي غفور لیوال د شعري ټولګې په اړه، چې (ته زما ټوله شاعري یې) نومیږي، په خپله یوه لیکنه کې داسې کښلي دي:

[ ((ته زما ټوله شاعري یې)) یو زړه راکښونکی شاعرانه نوم دی چې دپښتني- افغاني ځوان پښت استازندویه نوښتګر شاعر غفور لېوال پکې د خپلې ازادې او نیم ازادې ریالېستي شاعرۍ ګردې پنځونې په یوځایي ډول رانغښتې دي. شاعرانه نوم یې په دې بولم چې زما په څېر، د ژبني هنر او بیا یې د هنري ترین ځبل نور مینه وال ځني د یوې رښتیني او نوښتګرانه شاعرۍ جاج اخېستلای شي، یو داسې نوم چې په لیدو او اورېدو

سره مو د یوه ورته نومولي انځور د ذهن پر پرده راتوکېږي.که نه، له وچ کلک دودیز نامه((کلیات)) څخه، له پندوالي او پېږوالي پرته، بل څه جاج رامخته کېدای شو!

نوره د هرچا خوښه او خورمنځ چې پخپله غفور لېوال څه وړ شاعر نومول، خو زه یې د تېرو هېرو او نوو حماسو تاندوونکی او پنځوونکی بولم، او له همدې لید توګي اوګوټمپېره یې د ارزولو یوه هڅه کوم.)]

- د ښاغلي پوهاند دوکتورزیار صاحب د خبرو پر استناد د ښاغلي لیوال په شعرونو کې د پخوانیو او نویو حماسو اغیز، کلیوالي او تاریخي کرکټرونه او ویپیانګه په ډېر ښکلي او زړه راښکونکي شکل داسي انځور شوي دي، چې د هر با احساسه انسان جذبات او ولولې راپاروي. لکه دا بیلګې :

د هیندوکوش پر هسکو څوکو وې لا واورې پرتې

خو پسرلی د کاپیسا مېلمه و

او په بګرام کې د ګلونو څپو

د آریایي پېغلو لمنو ته عطرونه شیندل

پاس په دره کې لمر ته

ځنګلونه بیا وینېدل

د کاپیسا دښتي وې ټولې له غاټولو ډکې

د پسرلي داسي ښایسته ورځي وې

چې د بګرام مانۍ کې

د ښادۍ ډول اتڼ ته وګړ زیده

زلمیو واچولې څنې ورته

پېغلې ګیډۍ ګیډۍ را تاوې شولې

ګرده کړی یې د اتڼ جوړه کړه

سرې عنابې پیالې راوګرځېدې

ښکلیو ساقیانو ډک خمان ګرځول

شپه چراغانه لکه ورځ ښکاریده

دخوشالۍ او د ښکلا شیبو کې

کوم مساپر چانه پوښتنه وکړه

چې دغه جشن دا ښادي ولې ده؟

دومره بې حده خوشالي ولې ده؟

کاپیساوال ورته ځواب کې وویل:

تر تا قربان شم ناخبره وروره

د آریایانو دبرۍ په خاطر

زموږ د خپلې خپلواکي په خاطر

....

پایله:

عشق په اسمان کې د ارشاک او اوشاس لاره خاري

عشق آریانا ښځه د خپل ابدیت نښې خپل دربارته غواړي

عشق د محبوبو له موسکاسره د بل جهان سفر پیلوي

عشق سرنوشت ښځه کسات اخلي

عشق یوه لویه هنګامه جوړوي

عشق

یوه

داسې

افسانه جوړوي.

او یا وایي:

زموږ کلی زموږ مینه

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو

د سردرو د شنو لمنو خواکې

هلته يو کلی وو د مينې کلی

زه د دې کلي شپونکی

لا ډېر زلمی وم چې په مينه پوه شوم

....

شمله اوچته، غاړه هسکه، يو سوبمن شهزاده

د هسکو غرونو د ګوربت په شانې

څومره مغرور څومره واکمن شهزاده

چې يې لاټ دېو يوځلې بيا وو پر ګونډو راوستی

لکه فاتح ابدالي

....

ـ ښاغلي ډاکتر صاحب ببرک ارغند هغه نوميالي او وتلي ژورناليست، نوښتګر او مخکښ داستان ليکونکې دی، چې د ده نوم ديونامتو داستان ليکوني په توګه زموږ دهيواد د ادبياتو په تاريخ کې څرګنده او ځلانده بيلګه ده. دی په خپله يوه ليکنه کې د ښاغلي ليوال د ادبي او فرهنګي شخصيت په اړه داسې وايي:

(مسعود عزيز و گرامی با اين فصلی که گشوده ايد ( منظورم تبجيل و معرفی نويسنده گان وشاعران کشور است ) به يقين به بيان نيت نيک تان ، شايسته پرداخته ايد و ادای اين دَين ژورناليستکی ، فرهنگی ، ادبی و افغانی تان سزاوار تحسين و ستايش است. اميد دارم از ادامه اش خسته نشويد.

خوشحالم که اين بار با پرداختن به شاعر گرانمايه ، آگاه ، و شيرين کلامی چون جناب عبدالغفور ليوال پرداخته ايد که اشعارش هميشه تازه گی ، جنبش و تحرک دارد و خواندنش روح و روان آدمی را شاد ميگرداند . به قول دانشمندی ( زنده گی را به وسيلۀ قلم بر کاغذ جاری ميسازد.)

ميدانيم که يک اثر ادبی به ويژه يک پارچه شعر تنها در زمان خلق شدنش به وجود می آيد نی پيش از آن و نه پس از آن با طرح و با باز نگری و زمانی ميتواند خوبترين

گردد که به دنبال حقیقت باشد ، حقیقتی که امروزه دسترسی به آن تقریبا غیر ممکن است و پی غیر ممکن رفتن به نظر من خوبترین است و شعر باید که خوبترین باشد.

(دی شیخ با چراغ همی گشت گرد شهر

کز دیو ودد ملولم و انسانم آرزوست

گفتند : یافت می نشود جسته ایم ما

گفت : آنکه یافت می نشود آنم آرزوست)

جناب عبدالغفور لیوال از جمله شاعرانی دادخواهیست که پی حقیقت راه میزند و پیامهای انسانی خویش را با واژه ها و تصویرهای زیبا وساده و روان بیان میدارد . اشعارش مملو ازنکته یابیها و باریک اندیشیهاست .اشعارش به آیینهٔ شفافی میماند که حوادث دردناک کشور را صادقانه بازتاب میدهد . عمر شان طولانی باد.)

- ښاغلي عبدالغفورلیوال په خپلو شعرونو کې له هیواد او هیواوالو سره، پښتون تبر، پښتوژبې او پښتونولي او انسان او انسانیت سره پاکه او سپیڅلې مینه، د پښتني او اخلاقي ارزښتونو، د ملي، تولنیزواو انساني ولولو اوعواطفو په اړه استدلال، منطق، علمي او ادبي څېړنې، یووالي او وروروليِ، ملي و کر(هویت)، دآزادی او دموکراسی غږ، انصاف او عدالت، دخلکو برابرې ربنتیني حقوق او وروړګلوي، دسولې او سوکالې مفکورې، او د پردیسی ژوند په ډیر ښکلي سیمبولونو، تصویرونو او خیالونو کې په ډیر هنرمندانه شکل او شعري ژبه داسې انځور کړې دي، چې د هرلوستونکي او اوریدونکي په ذهن او زړه کې ښکلا او مینه راپاروي، او ترینه خوند و پند اخلي. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه لولو:

## اوښــکه

جانانه د خوږو سترګو تصویر سره دې ژاړم

د خوب او خیال له تور اوسپین تعبیر سره دې ژاړم

دا تا راته ویلي و چې بند کې به مې ساتې

ته نه یې د یادونو له زنځیر سره دې ژاړم

ستا اوښکه مې تاویزکړه ګرځومه یې په غاړه

له پیر سره دې ژاړم له فقیر سره دې ژاړم

بس تاکې چې اوسیږم لیونی یمه وطنه

خندا سره دې خاندم او له ویر سره دې ژاړم

برخلیک دې دی چې خپله مینه خښه کړې په خپله

لیواله بدقسمته له تقدیر سره دې ژاړم

او یا وایي:

## یو ټاپو د جذامیانو

څه ماڼی د نازولو شوې کوڅې د درویږ ګرو

څه لوی ښار مو د حسینو جوړمالت شو د سوالګرو

څه درنې درنې شملې مو شولې لپې د کپ سوال ته

غرونه غرونه لوپټې مو نن ګرو شوې په جوازګرو

هر زر ګرمو آهنګر شو جوړوي په غبرګو لاسو

له نتکیو نه د ښکلو تور کچکول د قلندرو

په لاسو کې د سندرو زولنې شوې د ځګیروی‌و

د رباب د شرنګ حجره مو شوه جونګړه د کوډګرو

زه بې وسه بې ګرېوانه، چېرې وساتم ستا اوښکې

رانه یووړې مرغلرې ها پردیو سوداګرو

کلی نه دی هدیره ده یو خو مړي په کې کرځي

نه ګودر شته نه منګي شته نه کتار یې د دلبرو

....

او یا وایي:

## یو مساپر

تو به مې کړې وه چې ماته  شوه توبه مې وکړه

شيخ او ساقي سره  همدومره ګوزاره مې وکړه
ته به مې خوب غونډې په ياد کې ساتې ښکلې ياره
يو مساپر وم، دلته راغلم يوه شپه مې وکړه
افغانستان غونډې زخمي زړګی مې راوړ درته
جا نانه راشه، شونډې راوړه څه چاره مې وکړه
دې ته دې هم لويه ګناه وويل زما قاتله
چې څنګدن کې دوطن خواته سجده مې وکړه
زه سترى نه وم خو پښتو مې مخ ته ودريده
توره مې ماته کړه دښمن سره جرګه مې وکړه

او يا وايي:

## د لنډيو شرنګ

شب پرست يم خپل يزدان سره مې شپه ده
ستا له زلفو  او باران سره مې شپه ده
مجلسى ياران مې ستوري او سپوږمی دي
مساپريم شنه آسمان سره مې شپه ده
ستا د سترګو څه نيکمرغه اسارت دى
چې له تيراوله کمان سره مې شپه ده
له ګونګرو يې د لنډ يو شرنګا اورم
ستاله ټيک او له پيزوان سره مې شپه ده
چې ويده شمه بس جنګ په خوب کې وينم
ستا د حسن له افغان سره مې شپه ده

او يا وايي:

# مـات غرور

پورته دې بانه کړه د ادا په غېږ کې شپه راکړه

وروره زلفې د ښکلا په غېږ کې شپه راکړه

شونډو کهنګارو ته د مينې د آيت په نوم

شونډې را نږدې کړه د دعا په غېږ کې شپه راکړه

زه يم، يو څو اوښکې دمه ستا د بارخو سيورو ته

خير دی مساپر يم د خندا په غېږ کې شپه راکړه

مات غرور خو نه يم چې د ناز غېږ نه مې وشړې

سترګو کې دې خوب يمه اشنا په غېږ کې شپه راکړه

خپل دې يم، پښتون دې يم، غزل دې يم، لېوال دې يم

ځار شم پښتنې نن د حيا په غېږ کې شپه راکړه

که چيرې د ښاغلي ليوال شعرونه په غور سره وګورو، نو دا را څرګندیږي چې د ده په شعرونو کې عيني او ذهني انځورونه په ډېرعالي او ښايسته شکل ترسيم شوې دي.

آغلې نجيبه ايوبي چې د دري ژبې يوه پياوړې او تکړه شاعره ده، او کله کله په پښتو ژبه هم شاعري کوي او د ښاغلي ليوال د شاعرۍ مينه واله ده په خپله يو ليکنه کې ښاغلی ليوال د يو انځورګرشاعر په توګه داسې راپيژني:

(هغه تصويرونه، چې لېوال پخپلو شعرونو کې راوړي، په رښتنې توګه مجذوب کوونکي دي، له عملي ژوند او تجربو سره خپله ځانګړې همغږي او پيوستون لري. هر انسان کولی شي، چې خپل ځان او خپله دنيا د ليوال په شعر کې ومومي. انځورګري د ليوال د شعرونو يو له خصوصيتونو څخه ده، دغه انځورګري دومره ښکلي او ظريفانه ترسره کوي، چې زه فکر کوم هغه به ډېر کم کسان وي، چې د ليوال شعر يې لوستی وي او دغه ظرافتونه او نازکخيالی يې نه وي درک کړي...)

په رښتيا سره د ليوال صاحب شعرونه د اولس د رښتيني ژوند اوحالاتواصلي او واقعي تصويرونه انعکاسوي. د بيلګې په توګه د ده د شعرونو دا بيتونه ګورو.

# ژوند لکه سپينې اوبه

خیال د ژوندون نه ساتو دومره بې تدبیره یو

ستا سترګو ته نیغ ګورو موږ څومره بې پیره یو

ډک خم په سر اړوو، وعظ د ملا نه اورو

ښکلو سره مینه کړو نور نو بې تقصیره یو

ژامه د لیوه باسو مرګ مو پرې لوریږي نه

ښکار ته کمان نه لرو زړونو ته بې تېره یو

رنګ سره بلد نه یو زړونه مو دي سپین ساده

خیال د انځورګر لولو خپله بې تصویره یو

ژوند سپینو اوبو غوندې غواړو یې نغمو غوندې

ستړي یې له وینو یو ستړي یې له ویره یو

او یا وایي:

## پـیر

بوی د نرګسو له دې باغه په څه ویر وتلی

خیال نه مې پټ ستا دخوږو سترګو تصویر وتلی

کله ماتیږي تا ګنډلی که جفا کړې که ناز

زړه نه مې تېر و بېر دا ستا د بنو تیر وتلی

ساقي له مخ نه دې نور نه اوري نن زما په ګومان

له میکدې څخه ناراضه کوم فقیر وتلی

دا خلک پیژني یوازې د خزان بادونه

له دې د یاره دخوږو ورمو بهیر وتلی

دا مریدان به خو د یو بل په کنایو یادوي

دې خانقاه څخه لیواله د عشق پیر وتلی

پوهاند دوکتور مجاور احمدزیار، چې زموږ د هیواد یو نامتولیکوال، د ژبې او ادب پیاوړی کارپوه، مخکښ او هڅاند شاعر دی، په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي لیوال د شاعرۍ په اړه داسې وایي:

( ګران او هڅاند لیوال د نوي ځوان پښت له هغو ګوتشمېرو نوښتګروشاعرانو څخه ګڼل کیږي چې د بېلابېلو فرهنګي وړتیاوو او بوختیاوو په لړکې یې شعر وشاعري د یوې

ورهنې یا مسلک (proficiency)

تر پورۍ راخپله کړې او له هماغو ړومبنیو ازمېښتونو او نوښتونو راهیسې یې لمن ټینګه او ترینګه ساتلې ده.

ما دوه کاله وړاندې هڅه کړې وه، د دغه نوښتګر ویناوال د یوځایي ټولګې((ته زما ټوله شاعري یې))د درو سرو بوللو په ارزونه کې له دوو(ژب- ښکلاییزو او ژب- اندیزو) ټولیو (مقولو) څخه، هغه هم له یوه ځغلنده لیده سره، پر دویمه یوڅه زیاته رڼا واچوم او لومړۍ ((ژب- ښکلاییزه)) ټولیې له لویه سره، په ټېره دننۍ (هنري) جوله نورو کره کتونکیو ته پرېږدم، چې د ټولیزې شعري کره کتنې له بېلابېلو آرونو او ټول و ټوک سره یې یو مخیزې کروني او ارزوني ته متې راونغاړي . خو ورسره د انجنیر صاحب قادر مسعود مرکې داپلمه پر لاس راکړه چې دوروستی اړخ یوه لنډه ارزونه یې هم وکړم، هغه هم د درو ډېرو غورو ځانګړتیاوو له پلوه:

لومړۍ- د دودیز بېقافیه نیم ازاد شعر، یا په لویدیزه نومونه

((سپین blank ))

تر ځنګ یې زموږ د غورځنګ په پلیونی ښپېړ ازاد شعر هم ښه ترا ازمایلی دی. (بدلمېچ ۳۱۷-۳۳۰)

دویمه- په داسې اکرکې چې په رومانتیکوځېلونو(غزل، ازادو انځوریزو میناتوریوکې) د هماغه منځني پېړ په پلیونی پرته او نېغه (افقي او صعودي) انځورګري هممهاله سمبا لوي، لکه په ((تصویر- ۷۳مخ)) کې، خو په داستاني شعر او بیا حماسه کې د نورو نومهالو نو ښتګرو غوندې ډېر زور پر نېغه هغه اچوي، لکه د ټولګې په ورپسې بېلګه ((مساپر)) کې. هرګوره، ورته پرتله او توپیر یې د غزلو او بوللو یا سرودونو ترمنځ لا ښه ترا راجوتېدای شي.

درییمه- تر عیني انځورونو په خوا کې یې ذهني انځورونه هم ښایسه ډېر کارولي او په

دې لړ کې یې تشخیص

(personification)، انطباق (animation) ، سېمبولونو(symbols)

او اسطورې (mythes) پوره پام وړ دي.

کيسه يي شعر او حماسي بوللي يي خو سرترپايه په همداسي انځورونو انځورلي او پسوللي دي.

باور دی چي د ننني مخکښ پښتو شعر مينه وال به يي له وړاندي کړو بېلګوښخه پوره جاج او خوند واخلي.)

((ستاسې د ټولو زيار))

- د زيار صاحب د خبرو پر استناد، ليوال صاحب هغه پوخ، نوښتګر او نازکخيال شاعر دی، چي د ده په شاعرۍ کې شعري وييونه، عاطفي رنګ او ادبي خوند غاړه غړی شوي، بديعي صنعتونه، استعارات، کنايات، تشبيهات، سيمبولونه يې ډير زړه راکښوني او په زړه پورې دي. د بيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

## بارانونه او ډيوې

تياره ده، ترورمی ده، ستا يادونه او ډيوې

له ستړګو سره جنګ کوي خوبونه او ډيوې

ستا زلفي يې په مخ دانه وانه وی خورې کړې

بېګاه يو ځای راغلي وو بادونه او ډيوې

ګيډی ګڼ کميسونه په کې چټې پښتني

واه ! ښکلي يوځای شوي دي ګلونه او ډيوې

دا خلک خړو کليو کې بس خپل جانان ته پريږدئ

دا خلک درنه نه غواړي ښارونه اوډيوې

په تنده دی په منده دی ملت مي په تياره کې

خاونده! يو ځای ورکړې بارانونه او ډيوې

او يا وايي:

## د تصوير خندا

جانانه څوک چيرې هم داسې  ناروا نه کوي

چې زړه  کې ناست وي خو پروا د زړه وا لا نه کوي

دومره ډېر فرق دی ستا د سترګواو د خلکو ترمنځ

خبرې ټول کوي خوهيڅ څوک يې ادا نه کوي

چې ته را ونه ګورې روح به مې ځان څه ووينې

چې تصوير نه وی آيينه چا ته خندا نه کوي

اخر په زموږ زړونه د خدای(ج) حسن په خوب و وينې

دغه مين ماشومان هيڅکله ګناه نه کوي

وايي مرګ سخت دی روح له تنه جدا کيږي مګر

ما دوطن بيلتون ليدلی هيڅ پروا نه کوي

اويا وايي:

## غځونې

ځليږې آيينه کې چې ښکاريږي آيينه کې

د خيل ښايست له سترګو راوريږي آيينه کې

ته پانه پانه ژوند يې او زه ذهن د ځنګلونو

آبشار زما شاهد دی چې شنه کيږي آيينه کې

بانه په سجده پريوتل د اوښکو په محراب کې

ای حسنه څه مغرور يې خو ماتيږې آيينه کې

جوهر زما د وينو انعکاس کوي ستا مخ کې

دا رنګ د حيا نه دی، چې سره کيږې آيينه کې

زه لاس د انځورګر يم تا به ښکه کړم راتوله

ته څومره ښانګې ښانګې لا غځېږې آيينه کې

اويا وايي:

## د سترګو ماتې هېنداري

يوڅوک دې په سندرو او په وير يادوي

مريد دی په حلقه کې نوم د پيرياد وي

د زلفو په تړلو موښوک کله ناز وي

زموږ د جنون نښې په زنځير ياد وي

زما د لمدو سترګو ماتې ماتې آيينې

دوينو، اوښکو منځ کې ستا تصوير يادوي

چې زړونه رانه يوسي خپل ښايست ته شي مغرورې

چې زړونه مو رامات کړي نوتقدير يادوي

د يارد نامه توري مې سلګيو کې ماتيږي

دا ځوک په دې دنيا کې مافقير يادوي

او داسې نور....

- دی په خپلو شعرونو کې د بد مرغيو، وحشت، او له جګړې سره خپله کرکه داسې ځرګندوي.

## هو دلته مينه نه شته

دلته هرڅه شته دي خو مينه نه شته

دلته د مور د لاس توده ډوډۍ غلمينه نه شته

دلته رګونوکې شراب ګرځي او زړونه په هوس دربيږي

دلته زما او ستا په شان وجود کې وينه نه شته

دلته رنګونه دي، غوغا ده او شوخي ډېره ده

دلته سپيڅلې او ساده ښکلا زما د کلي

هغه په سترګو توره او په مخ سپينه نه شته

زه دلته دوی ته خپل هرڅه يادوم

دوی را ته خاندي وايي

هو هلته هرڅه دي او دلته نه شته

وګوره دلته سپينه سوله ده او جنګ هم نه شته

دلته غلاهم نه شته تالان هم نه شته

دلته يوازې وداني شته و رانول چېرې دي

هو دلته مينه نه شته

خو په لاسو د انسان

د انسان مړينه نه شته

اګست 29 /DC2004 واشنګټن

او داسې نور...

ـ په دې کې شک نه شته، چې د ليوال صاحب د شاعرۍ ژبه که هغه غزل او که ازاد شعردی، ډېره ساده، روانه، رنګينه او خوږه ده. د ده شعرونه ډېر ښکلي او زړه راښکونکي دي.خو دی په پښتو آزاد شعر کې د لوی لاس خاوند شاعر دی.

ښاغلی استاد اسدالله غضنفر چې زموږ دهيواد يو تکړه او نامتوليکوال او نوښتګراديب او کره کتونکی دی، په خپله يو ليکنه کې د ښاغلي ليوال د شعر او شاعرۍ په اړه داسې وايي:

(په تېرو څو کلونو کې، چې ما د پښتو يو ډېر ښه ازاد شعر لوستی دی او خوند يې راکړی، هغه د مکتبی په نامه د ليوال صاحب ازاد شعر دی. په دې شعر کې يو ډېر مظبوط پلاټ موجود دی، يعنې د شعر مصرې، د شعر جملې او مختلفې برخې يې يو بل سره تړلې دي. موږ معمولا وينو، چې شاعران د شعر د موسيقۍ او يا هم د خپلو احساساتو تر اثر لاندې راځي او ځينې جملې هسې اضافه شعر ته ورواچوي. زموږ په ډېرو نثرونو کې دا ستونزه شته، اما د مکتبۍ نظم که څه هم اوږد نظم دی، خو بيا هم يوه

جمله او که وواېو حتي يوه کلمه هم په کې اضافي نه ترسترګو کېږي. دا زما لپاره يو بااارزښته شی دی.)

د بېګې په توګه د مکتبی د نظم څو بيتونه ګورو:

## مکتبی

د برکلي صاحب زاده يم

يو مې اس، يوه شړی

قصيده مې پخه کړې

ګرځومه کوزړی

ځوان مريد د څرخي پير يم

رنګ دې ورك شي

کوډې نه کړم

کوډې باسم

بند بختونه خلاصومه

د مئينو زړو ريبار يم

شکرانه مې يا مميز دي يا توتان دي يا مرۍ

څوك دستمال راته خامك کړي

....

څوك راجوړه کړي خولۍ

د برکلي صاحبزاده يم

نجونې ګردې رانه تاو وي

تاويزونه رانه غواړي

ملا تل راته په قار وي

سل کېږونه راته وايي

پروا يې ډېره نه کړم

خدايزده ولې د کوز کلي په زلميو باندې ګران يم

ما ته راز د دوی معلوم دی

يو د خان په لور مئين دی

بل ليدلې د ملا صاحب لمسی

....

- د ده په شعرونو کې دپاکي اوسپيڅلې مينې او عشق ناز، راز اونياز، سوز او ګداز، حسن اوجمال، خلوص، محبت، د سوز وساز سندرې، د طبيعت دمناظرورنګينه اوهنري ښکلا اود ښکلو الفاظو موسيقيت په ډېر نوښتګرانه توګه انځور شوې دي. لکه:

## يوه ناوې د سپوږمۍ

سپوږمۍ د شنه ځنګله له ستوني ښخه

د پېغلتوب سندره ويلې او سپېدار ورته نڅا کوله

سپوږمۍ د ستورو سپين پاولي

د خپل کميس پر تيز وتومبل

او باد ورته په خپلو ګوتو

د شپې له څنو نه د سيند ستنه کې تار واچاوه

سپوږمۍ په خپل تندي د لمر له پله نه خال کېښوده

او د اسمان پر لمن

ورته د وريځو سپين لمنې نجونې

په اتڼو ستړې شوې

سپوږمۍ شوه ناوې لا شپونکي ورته شپېلۍ وهله

زما شاعر زړګي يې کېښودل پر رغوي د غروب نکريزي

نو اوس به ورا د سپېدو راشي دا ښایسته ناوې به

د شنه بخت کور ته یوسي...

له (پاڼه) منظومې څخه

کابل ۴/۸/۱۳۷۴

اویا وایي:

## ښـېرا

پېغله چینه کې خپل وربل جوړوي

او د وږمو ډمې یې مخ ته ده نیولې د اوبو هینداره

د شپونکي ګام نه تیږه رغړې د چینې لورې ته

او پرې ماتېږي د اوبو هینداره

پېغله ښېراوې کوي

شپونکی یې لمانځي په سلام د مینې

د پېغلې شونډې په ښېرا اخته دي

خو یې د سترګو ژبه بل څه وایي:

(تا سره

مینه

لرم)

۱۴/۳/۱۳۷۴

اویا وایي:

## مـانو

له کومه راغله د لیلا د تک کوچی سندره

چې مو په کلي کې خوره شوه لیونی سندره

شور د پاولیو د سینې، د چا خوبجن اسویلي

لېونی زړه مې رانه غواړي د کیږدی سندره

پاس په دره کې د رمې د غاړو زنګ سره مل

ښومره خوږه ده مازیګر کې د شپیلی سندره

دا د سیند غاړه کې نن بیا د چا وربل جوړېده

چې داسې ماته کړه مانو پرې د ځوانی سندره

زه به نغمه شم د آدم ستا د مړوند پر بنګړو

ته راته وایه په ناز ناز د درخانی سندره

لوګر د مینې په لور پرې کړ خوشه چینې یوسه

د زړه پرهر ته یې د شونډو د پټی سندره

بي بي مرجانه هره پېغله شوه زیارت ته ورځي

کوډګر ملنګ هره شپه وایي د دوهی سندره

اوداسې نور...

لیوال صاحب یو درونډ، متفکر ، زړه سواندی او با وقاره انسان دی ، د پاک او سپیڅلی شخصیت خاوند دی. دی د خپلو هیوادوالو، ملګرو او دوستانو سره کلکه مینه، ملګرتیا او خواخوږي لري.

د ښاغلي عبدالغفورلیوال د اندو ژوند، خیرنو او پنځونو د پوره جاج اخیستنې په موخه به دا لاندې مرکه ولولئ. هیله من یم چې ستاسې د ګرانو مینه والو ادبي تنده او ښکلاییز ذوق خړوب کاندي.

لیوال صاحب زما سلامونه او نیکې هیلې ومنې. اجازه راکړی، چې خپلې پوښتنې مو مخې ته کیږدم.

ګران انجنیر صاحب زه هم خپلې مینې او پېرزوینې تاسې او ټولو مینه والو ته وړاندې کوم او په خدمت کې یم.

پوښتنه: یو شمیرلیکوال وایي: شعر د شاعرد زړه ژبه ده چې د زړه غوږونو ته رسیږي. زه غواړم، تاسې راته د خپلې شاعرۍ د انګېزې او پیلامې په اړه څه وویاست؟

ځواب: له عقلي او علمي پلوه زړه دويني دپمپولو آله ده (او چې ټوکه ورسره وي )، نو نه ژبه لري، نه هم غوږونه ، خو ډيره ځله زړه په استعاري او سېمبوليکه توګه دانسان د رواني ـ په تېره بيا عاطفي ـ اخيستنو او غبرګونوهغه ځواک ته ويل کيږي، چې هنرونه ورسره نږدې اړيکه لري. دهمدې لپاره دشعر ترټولو اوسمهالی پيژند داګڼلی شو ، چې : په لنډه او آهنګينه ژبه د اند او تخيل عاطفي ترون ته شعروايي.دشعر دپيژندلو لپاره دهنرپيژندنه مرسته کولای شي ، ځکه اوسمهالي ادبپوهان فکر کوي ،چې شعر تر ادبياتو ډير هنرونو ته ورنږدې دی ، ژان پل سارتر فکرکوي ،چې شعر ټولنيزه ـ مصلحتي ژمنتيا نه مني ،ځکه نو له ادبياتوڅخه خپله لاره بېلوي او په هنرونوکې ګڼل کيږي. دشعر په اړه يوه بله اروا پوهنيزه موندنه ښيي؛ هغه څه چې موږ ورته الهام ، شهود يا رواني کشف وايو ، په حقيقت کې زموږپه تحت الشعورکې دهغو زيرمه شويو ( شاته وهل شويو) غوټو ( عقدو) پټو غريزو، غوښتنو ، تمايلاتو ، ګروهو او تندو بيا فوران دی ، چې زيرنځای يې زموږ خپلې ، زموږ دنيکونو او ټول بشريت ګډې لاشعوري سرچينې دي او دبيلابيلو عاطفي پيښو له امله سر راښکاره کوي ، بيا د ويونکي له ژبنې او ويناييز مهارت او پوهې سره غوټه کيږي ، چې په پايله کې شاعرانه وينا ورڅخه جوړيږي ، ددې منطق پربنسټ شعر له نورو هنرونو ( موسيقي ، انځورګري ، نڅا ، تياتر...) سره ګډ زيرنځای لري او همداچې بيرته دنورو ( لوستونکيو يا اوريدونکيو) له عاطفي سره پيوند مومي نو په عامه وينا يې زړونو ته لاره کوي همدغه هيجاني اغيز دی ، چې شعر يې دبشريت خورا زوړملګری او ډير اغيز ښندونکی ژانر ګرځولی دی.

پوښتنه: يوشمير ليکوال په دې آند دي : په شاعرۍ کې ترټولو لويه سرچينه مينه ده که دا سرچينه نه وي، نودشاعرۍ ډيره غوره برخه له منځه ځي . لکه، چې اروا ښاد استاد ګل پاچا الفت وايي:

مينه ګلزار ته بلبلان راولي

بلو ډيوو ته پتنګان راولي

شاه د ګدا زړه ته نژدې کاندي

دخوار جونګړې ته سلطان راولي

که يو په ځمکه بل اسمان کې اوسي

ځمکې ته ستوري د اسمان راولي

مهرباني وکړئ په دې تړاو خپل ليد را سره شريک کړئ؟

ځواب: دوړاندينی پيژندګلوی په مرسته موږ پوهيدای شو ، چې دشعر له خورا ډيناميکو جوړوونکيو څخه يويې دانسان عاطفي ـ هيجاني ځواک دی. مينه له فزيولوژيکي پلوه دغريزي بنسټ ترڅنګ له همدې عاطفي ـ ولوليز يا هيجاني ځواک سره نږدې اړيکي لري ، دهمدې لپاره له لرغونيو زمانو څخه مينه دشعر يوه غوره او لويه برخه منځپانګه ده ، داسطوره پيژندني ديوهي يو منطق حکم کوي ، چې لرغوني حماسي ـ ګروهيزې ( عقيدوي ) اسطورې ياد ته دسپارلو لپاره په منظومو کې خوندي کېدې او ددې لپاره چې دغه منظومې تلپاتې او هنري ارزښت ومومي نو دکيسو په اوږدوکې به دميني او عاشقۍ مالګه ورګډيده ، داکار به شاعرانو کاوه ، په دې توګه وينو ، چې د شاعرانو دې کار آن د حماسو او ګروهيزو منظومو منځپانګه وربدلوله ، پخوانی انګېرنه همداسې وه ، چې دشعر دښکلا لپاره ښايي ميني ته پکې ځای وموندل شي .  موږ په خپل ګډ ( ټوليز)

تحت الشعور کې  خامخا دميني يوه تجربه لرو او هرکله ،چې خپلو ولولو او عواطفو ته نږدې کلام اورو ، اغيز راباندې کوي ، دهمدې لپاره مينه دشعر اصلي هډ او ښکلاييز جوهر دی .

پوښتنه: يو هالنډي شاعر وايي:

(ښکلا د يوې سترې دښتې په څير ده چې لاروی پکې لالهانده وي، خوهرې خوا ته چې ځې يو ښکلی بڼ به ويني.)

ستاسې پر اند ايا په شعرکې همداسې يوه ښکلا نغښتې ده؟

ځواب: ښکلا دانسان يوه تلپاتې تلوسه ده ، چې هروګړی يې بېل تعريف او ځانګړی تعبير لري، خوړل او تنفس دانسان جسم ژوندی ساتي په همدې ارزښت ښکلا دانسان اروا ژوندۍ ساتي ، ښکلا نسبي ده ، خو ښکلا ته اړتيا مطلقه ده . پر همدې بنسټ انساني اروا تل په ښکلا موندلو پسې سرګردانه ده او د ټولو ښکلاګانو فتحې ته دانسان رواني تنده پای نلري ، همدغه تنده ، همدغه تلوسه او همدا رواني هڅه په انسانانو کې ګډې ريښې لري ، مخکې مو وويل ،چې پخپله ښکلا او دښکلا خوښووني ذوق نسبي او په بيلابېلو وګړيو کې رنګارنګ دی ، خو اړتيا يې مطلقه ده ، هر کله چې ښکلا په هنرونو اوشعر کې ځای مومي دهمدې ګډې تندې او مطلقې اړتيا غريزه خړوبوي او په دې توګه شعر او هنر دهغه ښکلي مرمرين لوښي ارزښت مومي ، چې ښکلا ليږدوي او تږې انساني اروا خړوبوي. شعر پرته له ښکلا څخه هغه لوښي ته ورته دی ، چې تش وي. او ښکلا له هنر او شعره پرته دهغوتويې شويو اوبوپه شان دي ، چې لوښی ونلري او تږی يې نشي څښلی.

په ډېره ادبي مينه او درنښت: انجنير عبدالقادرمسعود